# د مهاجرينو، پناه غوښتونکو، او د مهاجرت د ځانګړي ويزې لرونکو کسانو لپاره د جواز اخيستنې ګړندۍ پروسه

مصرف کوونکو د چارو وزارت (DCA) او د هغې اړونده پلاوي او دفترونه په کاليفورنيا کې مشتريانو ته د قانوني ليسنس په شکل په مختلفو برخو او مسلکونو کې جوازونه ورکوي، له محاسب څخه نيولې تر ډاکټر، ساتونکي، قراردادي، د هديرې مدير او وترنر او نورو پورې.

د 2021 د جنورۍ تر 1 نېټې پورې، د لاندې کټګوريو افرادو زموږ د DCA د پلاوي د دفتر له لارې د خپل درخواست پروسه ګړندۍ کړې ده:

- د مهاجرت غوښتونکي چې د امريکا د آيالتي کود د 8 مې مادې د 1157 بند مطابق دي.
- هغو کسانو ته چې د امريکا داخلي امنيت د وزارت او يا د لوې څارنوالۍ له خوا پناه ورکړل شوې وي چې د امريکا د ايالتي کود د 8مې مادې د 1158 بند مطابق دی.
- هغه افراد چې د مهاجرت ځانګړې ويزه لري او د عمومي قانون د 181-110، د عمومي قانون د 163-109، او يا د عمومي قانون 8-111 بند ترلاندې د 602(b) برخې د 4مې مادې په اساس ويزه ورکړل شوې ده.

د دې لپاره چې افراد د جواز اخيستنې ګړندۍ پروسې ته برابر شي، هغوی بايد درخواست د کځورې د تسليمولو په وخت کې دخپل مهاجرت، پناه غوښتنې او د مهاجرت د ځانګړې ويزې د حالت سند وړاندې کړي: د سندونو بېلګې دا دي:

- د 94-I فورمه، د راتلو/وتلو سند، د ادارې له کلس کود سره لکه "RE" (پناه غوښتونکی)، "AY" (مهاجر)، او يا د مهاجر او پناه غوښتونکي کس په هکله نور معلومات.
- د مهاجرت ځانګړې ويزه چې په هغې کې هم د صنفبندۍ کودونه شامل وي، "SI" يا "SQ".
- د دايمي استوګنې کارت (551-I فورمه) چې معمولاً ګرين کارت هم ورته ويل کېږي، همدا رانګه هغه کټګوري هم بايد پکې ذکر وي چې مهاجر يا پناه غوښتونکی پکې راتلی شي.
- د صلاحيت د ترلاسه کونې د محکمې له خوا يو حکم او يا نور هغه مدارک او اسناد چې د دې ښودنه وکړي چې درخواست کوونکی د جواز اخيستنې ګړندۍ پروسې ته په شرايطو برابر دی.

که چېرې و نه توانېږئ چې دا اسناد چمتو کړئ، نو ممکن ستاسو د دې پروسې بياکتنه وځنډېږي. لطفاً پام مو وي چې د جواز اخيستنې ګړندۍ پروسه په دې مانا نه ده چې تاسو ته به جواز يا راجسترېشن درکول کېږي، بلکې دا په دې مانا ده چې پروسه به يې ګړندۍ شي.

**د نورو معلوماتو لپاره د مسلکي کسانو د جواز ورکونې د پلاوي له دفتر سره اړيکه ونيسئ، ايميل refugee@dca.ca.gov، او يا د DCA د جواز اخيستنې د ګړندۍ پروسې وېبسايټ ته مرجعه وکړئ. که چېرې مو پرته په انګليسي ژبه په بله ژبل معلومات غوښتل، نو د ژبې په برخه کې د ترجمانۍ خدمات په وړيا ډول موجود دي: د DCA له وړيا شمېرې سره اړيکه ونيسئ په 2006-498 (833).**

---

*د کاليفورنيا د ټولنيزو خدماتو د وزارت (CDSS) د پناه غوښتونکو د اسکان پروګرام له مستحقو مهاجرينو، پناه غوښتونکو او د مهاجرت د ځانګړو ويزو لرونکو او نورو مستحقو کسانو سره مرسته کوي ترڅو په کاليفورنيا کې مېشت شي. د CDSS پروګرام په هکله د نورو معلوماتو د موندلو لپاره دې وېبسايټ ته مراجعه وکړئ:*
*www.cdss.ca.gov/refugee-services*

د مشترې د چارو اداره
1625 North Market Blvd.
Sacramento, CA 95834
(800) 952-5210 | www.dca.ca.gov

STATE OF CALIFORNIA
dca
DEPARTMENT OF CONSUMER AFFAIRS